که بني آدم د مال دوه ناوونه (يا درې) ولري، نو دريم به يې هم غوښتلی و

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله فرمايلي: «که بني آدم د مال دوه ناوونه (يا درې) ولري، نو دريم به يې هم غوښتلی و، او د انسان ګېډه له خاورې پرته بل څه نه شي ډکولی، او الله تعالی چې چاته وغواړي نو د توبې توفيق ورکوي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي خبر ورکړی چې که بني آدم يو ناو (دره) له سرو زرو ډک ترلاسه کړي، نو د طبيعي حرص له امله به د دوو نورو هيله هم وکړي، او انسان د دنيا د حرص څخه تر مرګه نه خلاصېږي، مګر چې مړ شي او ګېډه يې د قبر له خاورو ډکه شي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4963